
# د جنازې د مونځ مسنون طریقه او دعاګانې




تألیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله پشاوری

حفظه الله تعالیٰ



مکتبه محمدیه

منګل مارکیټ ګنج پشاور Mob: 0301-8828402


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خاتم الانبیاء والمرسلین محمد وآله ودحابه اجمعین.

**اما بعد** : په ټولو نعمتونو کښې دالله تعالی مغفرت لوے نعمت دے ، نبی علیه السلام ته الله تعالی فرمائی :

﴿ لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ ﴾

نو د مغفرت اسباب لټول ضروری دی ، دمغفرت او بخښنې ډیر اسباب دی ، یو عالم یو سل پنځوس (۱۵۰) سببونه جمع کړی دی ، چه په هغې کښې یو مهم او ضروری سبب په مسلمان مړی باندې جنازه کول دی۔ لیکن دا جنازه هله سبب دمغفرت ګرځی چه په درې شرطونو باندې اوکړې شی :

۱ - **اول شرط** : دادې چه جنازه کونکی به مسلمانان وی چه هیڅ قسم شرك به پکښې نه وی۔

۲ - **دویم شرط** : دادې چه د ټولو جنازه کونکو به دسفارش اراده وی ، مخ ملازې دپاره به جنازه نه کوی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه غرض به ئې داوي چه دا مړے الله تعالی معاف کړی ، يعنې دمړی خير خواه به وی۔

**۳ - دريم شرط** : دادے چه جنازه به د نبی عليه السلام په طريقه وی ، چه دا طريقه روسته ذکر کيږی۔

په دے شرائطو باندے دليل دا حديث شريف دے :

عن ابن عباس قال : انی سمعت رسول الله ﷺ يقول : ما من رجل مسلم يموت فيقوم علی جنازته اربعون رجلا ، لا يشرکون بالله شيئا الا شفعهم الله فيه . (مسلم، مشکاة: [۱/۱٤]

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ نه ما اوريدلی دی چه فرمائيل ئے : کوم مسلمان چه مړشی او دهغه په جنازه باندے داسے څلويښت (٤٠) کسان اودريږی چه هغوئ بالکل شرك نه کوی، اودغه کسان د دغه مړی دپاره سفارش کوی ، نو الله تعالی به ضرور دهغوئ سفارش قبول کړی او مړے به اوبخښی۔

بل روايت کښې سل (۱۰۰) کسان راغلی دی (کلهم يشفعون) چه ټول مړی دپاره سفارش کوی۔

**نکته** : د دنيا مجرم چه حکومت اونيسی نو د سفارش او ضمانت ډومره کوشش کولے شي ، ليکن مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنهګار چه مړشی نو مسلمانان دهغه په سفارش کښې ځومره کوتاهي کوی ، او جنازه د بیګار په شکل کوی ، زر زر ئے کوی ، ګویا چرته ګاډے ترے روان دے ، یائے دخپو لاندے سکروټے دی ، محترمو لږ فکر پکار دے !

## دجنازے بعضے ضروری مسائل

## د صحیح او صریح احادیثو نه

١ – **مسئله** : په جنازه کښې تاخیر نه دے پکار ، کله چه انسان مړ شی نو جلتئ سره دهغه کفن دفن کول پکار دی ، صبا او بله ورځ ته دهغه ساتل نه دی پکار۔ (کما فی حدیث ابی هریره ، بخاری ، مشکاة : ١٤٤/١).

٢ – **مسئله** : جنازے مونځ کولو سره یو قیراط ثواب ملاویږی ، او قبر ته حاضریدلو سره دوه قیراطه ثواب ملاویږی (قیراط داُحد دغر نه غټ شے دے ) متفق علیه۔

٣ – **مسئله** : په جنازه کښې شور او زوګ کول ګناه ده بلکه جناز ګاه کښې اود جنازے نه روسته تللو په وخت کښې خاموشی ، فکر مندی ، ذکر او دعا کول پکار دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی : مونږ به اواز اوچتول درے وختونو کښې بد ګڼړل : (١) په وخت دجنازه کښې (٢) په وخت د ذکر کښې (٣) په وخت د قتال او جهاد کښې (فتاوی الدین الدین الخالص )۔

زمونږ مسلمانان په وخت د صفونو جوړولو دجنازه کښې شور او زوګ کوی او چغے وهی ، دا غلط عمل دے۔

ابن مسعود رضی الله عنه یو ځل یو سړے اولیدلو چه جنازه پسے روان دے او خاندی ، نو وے فرمائیل : (لا اکلمك ابدا ) تاسره به هیڅکله خبرے اونکړم، (الآداب الشرعیة : ١/٣٢٠، والسنن الکبری : ٤/١٧٤)۔

٤ – **مسئله** : په کور کښې د مړی صرف مخ کتل جائز دی ، په مقبره کښې یاپه جنازه ګاه کښې دمړی حصارول او دهغه کتل بدعت دے ، زمونږ خلق خامخا مړے په جناز ګاه کښې ګوری ، داغلطه طریقه ده ، اود نبی ﷺ مخالفت دے هغه فرمائی : (أسرعوا بالجنازة) جنازه په جلتئ سره قبرته رسوئ۔

٥ – **مسئله** : په جنازه کښې په ډیرو احادیثو کښې څلور تکبیرونه راغلی دی ، لیکن کله نبی ﷺ پنځه تکبیرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم وئيلي دي ، کله اووه ، او کله نهه هم شويدي ، (کما في احکام الجنائز ص : ١٢ - ١١٥) نودا طريقه هم کله کله کول پکاردي، اوګوره (البيهقي : ٤/٣٦ ، الطحاوي ، والدارقطني) .

## د جنازې صحيح سُنت طريقه

٦ - **مسئله** : د جنازې د مانځه صحيح سنت طريقه داده چه نيت به اوکړي په زړه کښ. په خوله باندې نيت وئيل نشته دې ، بدعت دې ، او دا آواز کول چه نيت کوئ الله مو اوبخه ، داهم بدعت او ناروا دې. بيا به الله اکبر اوکړي ، او ددې نه فورا پس به ( اعوذ بالله من الشيطان الرجيم : ﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ، الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم ، تر : ﴿ لا الضالين آمين ﴾ پورې اولولي، بيابه يو سورت اولولي لکه ﴿ قل هو الله احد ﴾ ، يابل کوم سورت به اولولي.(سبحانك اللهم وبحمدك) ، دجنازې په مانځه لوستل نه دي ثابت (اګرچه په عام مونځونو کښ ثابت ده) نو صحيح داده چه دالوستل نه دي پکار. بيابه الله اکبر اووائي ، بيابه دا درودِ ابراهيمي اولولي : (اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما

(c) ketabton.com: The Digital Library



صليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد ، اللهم بارك على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد )۔

داصحيح درود دے۔ او هغه بل درود چه خلقو ليکلے دے هغه صحيح ثابت نه دے د نبى عليه السلام نه ، نو هغه پريخوستل او درود ابراهيمي لوستل پکار دی۔

بيابه الله اکبر اووائی او دعا ګانے به شروع کړی ۔ په جنازه کښ هر قسمه دعا لوستل جائز دی چه د مړی دپاره فائده منه وی ، او عام مسلمانانو دپاره هم دعا کولے شی۔

## د جنازے د مانځه دعاګانے

بعضے غوره دعا ګانے دادی ، چه داد نارينه او زنانه ؤ دپاره دارنګ دماشومانو دپاره هم لوستلے کيږی :

۱ ـ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا ، وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا ، وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا ، اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهِ عَلَى الْاِسْلَامِ ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابو داود ، احمد ، ترمذی ، مشکاة : ۱/۱٤٦).

ترجمه : اے الله ! زمونږ ژوندی او مړی ، حاضر او غائب ، لوے او واړه ، نارینه او زنانه (ټول) اوبخښے۔ اے الله ! څوك چه مونږ نه ته ژوندے پریدے نو په اسلام باندے ئے ژوندے اولره ، او څوك چه ته مونږ نه وفات کوے نو په ایمان باندے ئے وفات کړه ، اے الله ! ته مونږ ده داجر نه مه محروموے، او مونږ ده دوفات نه پس مه گمراه کوے۔

۲ — اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ ، وَاَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ، وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهِ ، وَاَهْلًا خَيْرًا مِّنْ اَهْلِهِ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِّنْ زَوْجِهِ ، وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ ، وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ [ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ ] وَعَذَابَ النَّارِ ○

(رواه مسلم : ۱/۳۱۱ ، مشکاة : ۱/۱٤٥) شرح السنة : ۳/۲٤۸ ، ابن ماجه : ۱/۲٥۱)۔

ترجمه : اے الله ! دامړے اوبخه اورحم پرے اوکړه ، جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ساته دې ، او معافي ورته اوکړه ، دده میلمستیا ښه اوکړه ، دورتلو ځائے فراخه کړۀ ، او په اوبو او واوره او ګلئ باندې ئے اووینځه، اود ګناهونو نه ئے داسې پاك صفا کړه څنګه چه تا سپینه جامه پاکه کړیده دخیرې نه، اودده دکور نه ده ته غوره کور ورکړه ، او اهل غور دده دا هل نه ، او ملګرې غوره دملګرې دده نه ، او جنت ته ئے داخل کړه ، اود عذاب دقبر اود امتحان دقبر اود عذاب دجهنم نه ئے او ساته۔

عوف ابن مالك رضی الله عنه فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه دا دعا په جنازه کښې واوریدله ، یاده مې کړه او ارمان مې اوکړو چه کاش دغه مړې زه وې نو ښه به وې ، ځکه دا دعا ډیره مزیداره وه۔

۳ - نبی علیه السلام چه به کله جنازه باندې اودریدلو ، نو داسې دعا به ئے لوستله :

اَللّٰهُمَّ عَبْدُكَ وَابْنُ اَمَتِكَ ، احْتَاجَ اِلٰی رَحْمَتِكَ وَاَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهِ ، اِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِي حَسَنَاتِهِ ، وَاِنْ كَانَ مُسِيْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ ٥

(مستدرك للحاكم : ۱/۳۵۹ ، مجمع : ۳/۳۳)۔

ترجمه : اے الله ! ستا بنده دے او ستا دوینزې ځوې دے ، ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا رحمت ته محتاج شو او ته دده دعذاب نه غني ئې ، که چرته نيك عمله وی نو ته دده نيك عملونه ډير کړه ، اوکه چرې ګنهګار وی نو ته ئې معاف کړه۔

بيا به ئې دې سره نورې دعا ګانې هم ملګرې کولې (ثم يدعو بما شاء الله ان يدعو)۔

٤ – ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : زه د جنازې پسې دهغه دکور نه ځم ، او کله چه کيښودل شی په جناز ګاه کښې نو الله اکبر اوکړم ، بيا الحمد لله اووايم ، بيا درود اولولم ، بيا دا دعا لولم :

اَللّٰهُمَّ اِنَّهُ عَبۡدُكَ ، وَابۡنُ عَبۡدِكَ ، وَابۡنُ اَمَتِكَ ، كَانَ يَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُكَ وَرَسُوۡلُكَ ، وَاَنۡتَ اَعۡلَمُ بِهِ ، اَللّٰهُمَّ اِنۡ كَانَ مُحۡسِنًا فَزِدۡ فِيۡ اِحۡسَانِهِ وَاِنۡ كَانَ مُسِيۡئًا فَتَجَاوَزۡ عَنۡ سَيِّئَاتِهِ ، اللّٰهُمَّ لَا تَحۡرِمۡنَا اَجۡرَهُ وَلَا تَفۡتِنَّا بَعۡدَهُ ٥

(رواه مالك فی الموطا : ۲۰۹/۱ ، المجمع : ۳۳/۳)۔

ترجمه : اې الله ! دا ستا بنده دې او ستا دبنده ځوې دې ، او ستا دوينزې ځوې دې ، ده به دا ګواهی کوله چه نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقدار دبندګۍ سیوا ستانه ، او محمد ﷺ ستا بنده او رسول دے او ته ډیر ښه پو هیږے دده په حال باندے ، اے الله ! که چرے دے نیك عمله وي نو دده نیك عملونه ډیر کړے ، اوکه چرے ګنهګار وی نو ته دده ګناهونه معاف کړه ، اے الله ! مونږ مه محروموه دده داجر نه او مه مو ګمراه کوه دده نه پس۔

٥ – واثله بن اسقع رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ په یو مسلمان باندے دجنازے مونځ کولو ، اوما ترینه دا دعا واوریدله :

اَللّٰهُمَّ اِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِیْ ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ ، وَعَذَابِ النَّارِ ، وَاَنْتَ اَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ ، اَللّٰهُمَّ فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ ، اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ٥

(صحیح ابی داود : ٦١٧/٢) صحیح ابن ماجه : ٢٥٠/١ ، المشکاة : ١٤٦/١).

ترجمه : اے الله ! فلانے دفلانې څوئ ستا په ذمه کښې دے او ستا دګاونډ په رسئ کښې دے ، نودے دفتنے دقبر اود

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور دعذاب نه بچ کړے ، او ته وفادارئ او حق واله ذات ئے ، اے الله ! ده ته بخنه اوکړے او په ده باندے رحم اوکړے ، بیشکه چه ته ښنونکے مهربانه ئے۔

٦ – دارنګ دا دعا هم راغلے ده :

**اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّهَا وَاَنْتَ خَلَقْتَهَا وَاَنْتَ هَدَيْتَهَا اِلَى الْاِسْلَامِ وَاَنْتَ قَبَضْتَ رُوْحَهَا ، وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَّتِهَا جِئْنَا شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهَا ٥**

(البیهقی : ٤٢/٤ ، ابو داود)۔

ترجمه : اے الله ! ته دده پرور دګار ئے او تا دے پیدا کړے دے اوتا ورته داسلام هدایت اوکړو ، اوتا ورنه روح واخستلو ، او ته ډیر ښه عالم ئے دده په پټ او ښکاره باندے ، مونږ راغلی یو شفارس کوونکی ، نو ته ورته مغفرت اوکړه

**فائده** : دا روایت اګرچه دسند په لحاظ ضعیف دے لیکن نبی علیه السلام اجازت ورکړے دے چه هرقسمه دعا تاسو جنازه کښې لوستلے شئ ، لکه ارشاد دے :

(اذا صلیتم علی الجنازة فاخلصوا له الدعاء)

صحیح ابن ماجه ١٥١/١ ، صحیح ابی داود (٢١٧/٢) بسند صحیح).

دغه شان مخکښې (ثم یدعو بما شاء الله ان یدعو ) لفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیر شو، چه په عموم باندے دلالت کوی۔

۷ ـ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ ، ابْنُ عَبْدِكَ ، ابْنُ اَمَتِكَ ، مَاضٍ فِيْهِ حُكْمُكَ ، خَلَقْتَهُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا مَذْكُوْرًا ، نَزَلَ بِكَ وَاَنْتَ خَيْرُ مَنْزُوْلٍ بِهِ ، اَللّٰهُمَّ لَقِّنْهُ حُجَّتَهُ وَاَلْحِقْهُ بِنَبِيِّهِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَثَبِّتْهُ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فَاِنَّهُ افْتَقَرَ اِلَيْكَ وَاسْتَغْنَيْتَ عَنْهُ ، كَانَ يَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ ، وَلَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهُ ، وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ زَاكِيًا فَزَكِّهِ ، وَاِنْ كَانَ خَاطِئًا فَاغْفِرْ لَهُ ٥

(کنز العمال : ۱۵/۷۱۸)۔

ترجمه : اے الله ! داستا بنده دے او ستا دبنده ځوئ دے او ستا دوینزے ځوئ دے ، په ده کښ (صرف) ستا حکم چلیږی ، تادے په داسے حال کښ پیدا کړو چه دے هیڅ شے نه وو چه ذکر ئے اوشی۔ دے اوس ستا میلمه شو ، او ته غوره کوربه ئے۔ اے الله ! ده ته خپل دلیل ور اوښایه ، اوخپل نبی محمد صلی الله علیه وسلم سره ئے ملاو کړه ، او په مضبوطه وینا سره ئے محکم کړے ، ځکه دے تاته محتاجه دے او ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته هیڅ حاجت نه لرے ، ده به ددے خبرے گواهی کوله چه دالله نه سیوا هیڅوك دعبادت لائق نشته ، پس دے اوبخښه او رحم پرے اوکړه ، اودده داجر او ثواب نه مونږ مه محرومو ه ، او دده دمرگ نه پس مونږ په امتحان کښں مه اچوه۔ اے الله ! که دے پاك وی نو ته ئے پاك کړه ، اوکه گنهگار وی نو ته ورته بخښنه اوکړے۔

۸ – ابو درداءؓ به په جنازه کښں داسے دعا غوښتله :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَحْيَائِنَا وَاَمْوَاتِنَا الْمُسْلِمِيْنَ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ، وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنَاتِ ، وَاَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِهِمْ ، وَاَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ، وَاجْعَلْ قُلُوْبَهُمْ عَلٰى قُلُوْبِ خِيَارِهِمْ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِفُلَانِ بْنِ فُلَانٍ ذَنْبَهُ ، وَاَلْحِقْهُ بِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، اَللّٰهُمَّ ارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِى الْمُهْتَدِيْنَ ، وَاخْلُفْهُ فِىْ عَقِبِهٖ فِى الْغَابِرِيْنَ ، وَاجْعَلْ كِتَابَهُ فِى الْعِلِّيِّيْنَ ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهٗ ، رَبَّ الْعَالَمِيْنَ ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهٗ ٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابن ابی شیبة : ٢٩٣/٣).

ترجمه : اې الله ! زمونږ ژوندی او مړی مسلمانان اوبخښه ، اې الله ! ته مسلمانانو سره او مسلمانانو ښځو ته ، او مؤمنانو نارینه ؤ او مؤمنانو زنانو ته مغفرت اوکړې ، او ددوئ خپل مینځي تعلقات ښه جوړ کړې ، او ددوئ په زړونو کښې دیو بل سره مینه محبت واچوې ، او ددوئ زړونه دنیکانو دزړونو په شان جوړ کړې ، اې الله ! دې فلانی دفلانی ځوې ته دده ګناه معاف کړه ، او دې دخپل پیغمبر (محمد) ﷺ سره یوځایې کړه ، اې الله ! په هدایت موندونکو کښې دده درجه اوچته کړه ، اوپه پس ماندګانو کښې دده ته جانشین جوړ شه ، او دده عملنامه په علیین کښې اوګرځوه ، اومونږ اوده (ټولو) ته بخښنه اوکړه اې رب العالمینه! او دده دمرګ نه پس ته مونږ مه بې لارې کوه۔

٩ - ابو صدیق الناجبی فرمائی : ما دابو سعیدؓ نه دجنازې دمانځه تپوس اوکړو، نو هغه اوفرمائیل : مونږ به دادعا لوستله :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّنَا وَرَبُّهُ ، خَلَقْتَهُ وَرَزَقْتَهُ ، وَاَحْيَيْتَهُ ، وَكَفَيْتَهُ ، فَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ ، وَلَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهُ ، وَلَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تُضِلَّنَا بَعْدَهُ ۝

(مجمع الزوائد : ۳/۳۳ ، مصنف ابن ابی شیبة : ۳/۲۹۳)۔

ترجمه : اے الله! ته زمونږ اودده مړی رب ئے ، تا دے پیدا کړو ، رزق دے ورکړو ، ژوندے دے اوساتو ، او دده کفایت اوپوره والے دے اوکړو ، مونږ اوده ته مغفرت اوکړه ، او مونږ دده داجرنه مه محرومو ، او دده دمرګ نه پس مو مه بے لارے کوه۔

۱۰ - عمر فاروق رضی الله عنه به دجنازے په مانځه کښې چه کله به دمازیګر په وخت کیدله داسے دعا فرمائیله

اَللّٰهُمَّ اَمْسٰى عَبْدُكَ قَدْ تَخَلّٰى عَنِ الدُّنْيَا وَتَرَكَهَا لِاَهْلِهَا ، وَاسْتَغْنَيْتَ عَنْهَا ، وَافْتَقَرَ اِلَيْكَ ، كَانَ يَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ ، فَاغْفِرْ لَهُ ذَنْبَهُ ۝

(ابن ابی شیبه : ۳/۲۹۲).

ترجمه : اے الله ! بیګاه کړو ستا بنده په داسے حال کښې چه دنیانه ئے ځان اوزګار کړو او هغه ئے دهغے اهل ته پریخوده اوته ددے نه بے پرواه ئے ، اوهغه تاته محتاج دے ، دے ددے خبرے ګواهی کوی چه تانه سیوا بل خوك لائق

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبندګۍ نشته او محمد (ﷺ) ستا بنده اورسول دے ، نو ته ده ته دده ګناه اوبخښه۔

اوکه د سحر په وخت به ئې جنازه کوله ، نود (اللهم امسى عبدك ) په ځاے به ئې ( اللهم اصبح عبدك ) يعنې اے الله سحر کړو ستا بنده الخ ، لوستل۔ نوره دعا همدغه شان ده۔

۱۱ - ابو بکرصديق رضى الله عنه به داسے دعا لوستله

اَللّٰهُمَّ عَبْدُكَ اَسْلَمَهُ الْاَهْلُ وَالْاٰلُ وَالْعَشِيْرَةُ ، وَالذَّنْبُ الْعَظِيْمُ ، وَاَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ٥

( ابن ابى شيبة : ۳/۲۹۲).

ترجمه : اے الله ! ستا دے بنده لره دده اهل او بال بچ او قام قبيلے اوسپارلو ، او ګناه غټه ده ، اوته ډير زيات بخښونکے مهربان ئې۔

۱۲ - عبد الله بن عمر رضى الله عنه به اوږده جنازه کوله او اذکار او دعا ګانې به ئې پکښې لوستلے ، يوه دعا به ئې په کښې دا هم لوستله :

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِيْهِ وَصَلِّ عَلَيْهِ وَاغْفِرْ لَهُ وَاَوْرِدْهُ حَوْضَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَسُوْلِكَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٥

(ابن ابی شیبة : ۳/۲۹٤)۔

۱۳ – ابو نعیم د عبد الله بن الحارث بن نوفل په واسطه سره دنبی علیه السلام نه نقل کوی چه هغوئ به دادعا ښودله :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاِخْوَانِنَا وَاَخَوَاتِنَا وَاَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا ، وَاَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِنَا ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ ، وَلَا نَعْلَمُ اِلَّا خَيْرًا ، وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِهِ مِنَّا ، فَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ.

(کنز العمال : ۷۱٤/۱۵)۔

۱٤ – دا دعا هم بهتره ده :

اَللّٰهُمَّ عَبْدُ كَ وَابْنُ عَبْدُكَ خَرَجَ مِنْ رَوْحِ الدُّنْيَا وَمَحْبُوْبِهَا وَاَحِبَّائِهِ فِيْهَا ، اِلٰى ظُلْمَةِ الْقَبْرِ وَمَا هُوَ لَاقِيْهِ ، كَانَ يَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ ، وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِهِ ، اَللّٰهُمَّ نَزَلَ بِكَ وَاَنْتَ خَيْرُ مَنْزُوْلٍ بِهِ ، وَاَصْبَحَ فَقِيْرًا اِلٰى رَحْمَتِكَ وَاَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهِ ، وَقَدْ جِئْنَاكَ رَاغِبِيْنَ اِلَيْكَ شُفَعًا لَهُ ، اَللّٰهُمَّ فَاِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ مِنْ اِحْسَانِهِ ، وَاِنْ كَانَ مُسِيْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ ، وَبَلِّغْهُ رَحْمَتَكَ بِرِضَاكَ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَهُ ، وَافْسَحْ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ وَجَافِ الْاَرْضَ عَنْ جَنْبِهِ ، وَلَقِّهِ بِرَحْمَتِكَ الْاَمْنَ مِنْ غَيْرِ عَذَابِكَ حَتّٰى تَبْعَثَهُ اِلٰى جَنَّتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ٥

معرفة السنن والآثار ۳/ ۱۷۰

ترجمه : اے الله ! دا ستا بنده دے او ستا دبنده ځوے دے ، ددنیا دراحتونو ، خوښو څیزونو او په دیکښې دخپلو دوستانو نه را اووتلو ، اودقبر تیارے ته اودڅه سره چه دے مخامخ کیدونکے دے هغے ته رااورسیدلو۔ ده به ددے خبرے ګواهی کوله چه ستانه سیوا بل هیڅوك دعبادت لائق نشته ، او محمد (صلی الله علیه وسلم) ستا بنده اورسول دے ، ته په ده باندے ډیر ښه پوهه ئے ، اے الله ! دے ستا میلمه شو اوته بهترینه میلمستیا ورکونکے ئے ، دے ستا رحمت ته محتاج شو ، او ته دده د عذاب نه بے پرواه ئے ، مونږ تاته دده دشفارس کولو دپاره په داسے حال کښې راغلی یو چه رغبت لرونکی یو ۔ اے الله ! که چرے دے نیك عمله وی نو دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیك عملتیا نوره هم زیاته کړه اوکه چرې ګنهګار وی نو ده ته معافی اوکړه ، او دې خپل رحمت ته اورسوه په خپلې رضامندئ سره ، اودې دقبر دامتحان اوعذاب نه په امن کړه ، او ده دپاره دده قبر فراخه کړه او دده داړخ نه زمکه لرې کړه ، او ده ته په خپل رحمت سره امن ورکړه په غیر دعذاب ستانه ، تردې چه ده لره ته خپل جنت ته اولیږې ، اې دټولونه زیات رحم کونکیه۔

۱۵ – دادعا هم جامعه ده :

اَللّٰهُمَّ عَبۡدُكَ وَابۡنُ عَبۡدِكَ ، وَ ابۡنُ اَمَتِكَ ، كَانَ يَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُكَ وَرَسُوۡلُكَ ، وَاَنۡتَ اَعۡلَمُ بِهٖ، اللّٰهُمَّ اِنۡ كَانَ مُحۡسِنًا فَزِدۡ فِيۡ اِحۡسَانِهٖ وَارۡفَعۡ دَرَجَتَهٗ ، وَقِهٖ عَذَابَ الۡقَبۡرِ ، وَكُلَّ هَوۡلٍ دُوۡنَ الۡقِيَامَةِ ، وَابۡعَثۡهُ مِنَ الۡاٰمِنِيۡنَ ، وَاِنۡ كَانَ مُسِيۡئًا فَتَجَاوَزۡ عَنۡهُ ، وَبَلِّغۡهُ بِمَغۡفِرَتِكَ وَطَوۡلِكَ دَرَجَاتِ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ٥ اَللّٰهُمَّ فَارِقۡ مَاكَانَ يُحِبُّ مِنۡ سَعَةِ الدُّنۡيَا وَالۡاَهۡلِ وَغَيۡرِهِمۡ اِلٰى ظُلۡمَةِ الۡقَبۡرِ وَضَيۡقِهٖ ، وَانۡقَطَعَ عَمَلُهٗ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقَدْ جِئْنَاكَ شُفَعَاءَ لَهُ ، وَرَاجِيْنَ لَهُ رَحْمَتَكَ ، وَاَنْتَ اَرْاَفُ بِهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ بِفَضْلِ رَحْمَتِكَ فَاِنَّهُ فَقِيْرٌ اِلٰى رَحْمَتِكَ وَاَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهِ ٥

(معرفة السنن والآثار : ۳/۱۷۱).

ترجمه : اې الله ! دا ستا بنده دې ، او ستا دبنده ځوې دې ، او ستا دوینزې ځوې دې ، ده به ددې خبرې ګواهي ورکوله چه ستا نه سیوا بل هیڅوك دعبادت لائق نشته ، او محمد (ﷺ) ستا بنده اورسول دې ، او تاته دده په حال باندې دهر چانه ډیر ښه علم دې ، اې الله ! که چرې دې نیك عمله وی نو دده نیك عملئ کښې نوره اضافه هم اوکړه ، اودده درجه پورته کړه اودې د قبر او دقیامت نه مخکښې دهرې ویرې ترهې نه ئې اوساته ، اودې امن والونه جوړ کړې اوکه دې ګنهګار وی نودده ګناه معاف کړه اوپه خپل مغفرت او طاقت سره دې دنیك عمله خلقو مرتبو ته اورسوه ، اې الله ! دې د دنیا د فراخئ اود اهل وغیره نه چه دده محبوب ځیزونه وو راجداشو ، اود قبر تیارې او تنګ والی ته راغې ، اود ده عمل بند شو ، مونږ ته په داسې حال کښې راغلی یو چه دده دپاره شفارس کوونکی اودده دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د رحمت غوښتونکی یو ، او ته په ده بانده ډېر ځانه زیات شفقت کوونکې ئې ، اې الله ! په ده رحم اوکړه په خپل فضل سره ځکه چه دې ستا رحمت ته محتاج دې او ته د ده دعذاب نه بې پرواه ئې۔

دا رنګ نورې دعا ګانې هم شته ، لیکن دا کافی دی ، په دیکښې چه ځنې اولوستلې شي هم کافي دی ، خو اخلاص اوپه مړی بانده شفقت پکار دې او ډیره زاری او عاجزی پکار ده الله تعالی ته چه دامسلمان معاف کړی۔

* د دعا نه پس به بیا الله اکبر اووائی ، او بیا به یو طرفته سلام اوګرځوی ، لکه مستدرك (۱/ ۳٦۰ ) کښې احادیث راغلی دی ، دغه شان دویم طرفته سلام اړول هم ثابت دی ، کله دا کول پکار دی او کله دا۔

(احکام الجنائز ص : السنن الکبری : ٤/ ٤۳)۔

۷ – **مسئله** : که د سړی اوښځې فرق په دعا لوستلو کښې اونکړی ، او ضمیر دَ (هُو) راجع کړی مړی ته نو دا هم صحیح ده ، لکه (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ) اوکه په دعا دجنازه کښې څوك (هُوَ ، هَا) بدل کړی نو هم صحیح ده ، لیکن منقول الفاظ په جنازه کښې که بدل نشی نو بهتره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



، او په نورو ځایونو کښې بدولول دمنقول الفاظو جائز نه دي۔

۸ – **مسئله** : جنازه په جهر سره هم راغلې ده ، دځلورو نه زیاتو صحیح احادیثو کښې ، لیکن دابن عباس رضی الله عنهما د روایت نه معلومیږی چه دا د تعلیم دپاره وه ، لکه چه فرمائی : (لتعلموا انها سنة)۔ دارنګ جهر مفرط نه وو ، بلکه درمیانه جهر وو، چه روسته مقتدیانو هم دعا ګانې لوستلې شوې۔

دارنګ په پټه باندې جنازه مونږ په شپږو روایاتو کښې موندلې ده ، اوهمدا دعامو علماؤ په نیز بهتره ده۔

۹ – **مسئله** : بعضِ خلق په جنازه کښې آمین وائی ، یعنې امام دعا کوی اومقتدیان آمین وائی ، داچرته احادیثو کښې مونږ نه دی لیدلی ، بلکه صحیح طریقه داده چه هر سړے به دعا لولی ، لکه نبی ﷺ فرمائی :

( اذا صلیتم علی المیت فاخلصوا له الدعاء )۔

۱۰ – **مسئله** : په ماشوم باندې جنازه شته دے ، کله چه دمور په خیټه کښې پکښې روح اچولے شوے وی ، یعنې ځلور میاشتې پس پیدا شوے وی ، څکه دا انسان دے ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده باندې دجنازې مونځ په احاديثو کښې راغلې دې -

(مشکاة : ۱/۱٤٦ ، عبد الرزاق : ۳/۵۳۱ ، احمد : ۵/۲٤۷)۔

دماشوم په جنازه کښې هم دغه دعا ګانې لوستلې شي :

(اللهم اغفر لحينا وميتنا الخ)۔

ليکن د ابو هريره رضی الله عنه نه نقل دی چه هغه به داسې دعا فرمائيله :

اَللّٰهُمَّ اَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ۔ (مشکاة : ۱/۱٤۷).

دارنګ حسن بصرئ به داسې الفاظ لوستل :

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا ، وَفَرَطًا ، وَذُخْرًا وَاَجْرًا

(مشکاة : ۱/۱٤۷).

دارنګ مور او پلار ته ئې دعا کول پکار دی ، او داسې وئيل پکار دی :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِوَالِدَيْهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُمَا ، اَللّٰهُمَّ اَبْدِلْهُمَا خَيْرًا مِنْهُ ٥ (مشکاة : ۱/۱٤٦) -

دغه شان ماشوم ته داسې دعا کول پکار دی :

اَللّٰهُمَّ اَعِذْهُ مِنْ وَحْشَةِ الْقَبْرِ وَاَلْحِقْهُ بِاِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلِكَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



(المحلی : ۳/۳۵۵)۔

۱۱ – **مسئله** : دجنازے دمانځه نه پس دعا کول نشته دے ، او د قبر دپاسه مړی دپاره دعا غوښتل ثابت دی ، بلکه حکم راغلے دے چه دقبر دپاسه دعا اوکړئ اودثابت قدمئ دعا ورله اوغواړئ ، او لاس اوچتول هم په دے دعا کښ راغلی دی۔ لکه (مسند ابو عوانة ، او فتح الباری (۱۲۱/۱۱) کښ دابن مسعود رضی الله عنه حدیث دے۔

۱۲ – **مسئله** : د قبر دپاسه سورتونه لوستل صحیح حدیث کښ نه دی ثابت ، ځان ترے ساتل بهتر دی ، ضعیف روایت کښ راغلی دی ، لیکن دعمل دپاره صحیح نه دے۔

۱۳ – **مسئله** : دمړی دسپارلو طریقه داده ، چه : ( بِسْمِ اللهِ وَعَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ) به اووائی ، یابه : ( بِسْمِ اللهِ ، وَبِاللهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ) ، اووائی ، اوقبلے طرفته به ئے متوجه کړی ، یعنے ټول بدن قبلے طرفته متوجه کول پکار دی ، نه صرف مخ ۔(المحلی تفصیلا ابو داود۔ واحکام الجنائز ص : ۱۵۲)

۱۴ – **مسئله** : دجنازے په مانځه کښ که مړے نارینه وی ، نودهغه سرته مخامخ اودریدل ، اوکه زنانه وی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دهغے کناتُو ته مخامخ اودریدل سنت دی دامام دپاره ـ

دے باره کښں احادیث په بخاری (۱/ ۱۷۷) او مشکوة (۱۴۷/۱) کښں اوگوره۔

۱۵ - **مسئله** : دمړی دمړینے اعلانونه کول گناه ده ، که مسجد کښں وی اوکه دمسجد نه بهر وی ، بلکه صحیح طریقه داده چه څوك دے خلقو پسے اولیږل شی اویا دے ټیلفون وغیره اوکړے شی ورته۔

نهی رسول الله ﷺ عن النعی (الترمذی : ۱۹۲)۔

۱۶ - **مسئله** : مړے دشپے خښول هم روا دی کله چه خلق پوره راتلے شی اود ورځے خښول بهتر دی ، نبی علیه السلام دشپے دفن شوے وو ، دارنګ ابو بکر صدیق رضی الله عنه دارنګ یو بل صحابی دشپے دفن شوے وو۔

۱۷ - **مسئله** : سنت طریقه داده چه مړے په مقبره کښں ښخ کړے شی ، کورونو کښں مړے ښخول صحیح نه دی ، داصرف دانبیاء علیهم السلام خصوصیت دے چه کور کښں یاکوم ځائے چه وفات شی هلته ښخولے شی۔

۱۸ - **مسئله** : مړے په جوماتونو کښں خښول کبیره گناه ده ، بلکه دیهود او نصاراؤ کار دے ، لکه دنبی کریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم ارشاد دے :

لعن الله الیهود والنصاری ، اتخذوا قبور انبیائهم مساجد.

(بخاری مسلم)۔

بلکه په هغه مسجد کښې مونځ هم نه کیږی۔

۱۹ - **مسئله** : دقبر دپاسه څه شناخته لګول روا دی لیکن د زنانه ؤ دپاره جدا شناخته اود نارینه دپاره جدا شناخته لګول ، دانشته ، حدیث دعثمان بن مظعون رضی الله عنه پرے دلیل دے (مشکاة : ۱/۱۴۹)۔

۲۰ - **مسئله** : قبر به نه ډیر اوچت جوړوی او نه بالکل زمکے سره برابر، بلکه یو لویشت په اندازه باندے اوچتول پکار دی - (ابن حبان : ۲۱۶۱ ، البیهقی : ۳/۴۱۰)۔

دارنګ قبر ماهی پوش جوړول پکار دی ، مسطح یعنے ځلور ګوټه قبر جوړول په دین کښې نشته ۔

(بخاری ، بیهقی : ۴/۳)۔

۲۱ - **مسئله** : په مقبره کښې بیان کول ثابت دی ، اوکه کله ناکله پاتے شی ، نو هم اجازت شته دے ۔

۲۲ - **مسئله** : د تعزیت دپاره په جوماتونو کښې کیناستل ، او فاتحه خوانی کول ، چه یو قاری ناست وی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ورځ خلق راځی او هغه تلاوت کوی ، دا عمل بدعت دے۔ صرف د افغانانو رواج دے۔ صحیح طریقه داده ، چه تعزیه د مړی خاوند ته پکار ده ، چرته چه ورسره ملاو شی ، په دے الفاظو سره :

اَعْظَمَ اللّٰهُ اَجْرَكَ ٥ (الله دے ستا ثواب لوئے کړی)۔

یا په دے الفاظو سره :

اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ ، وَلَهُ مَا اَعْطٰی ، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِاَجَلٍ مُّسَمًّى ، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ ٥

یا بله کومه دعا دے اوکړی۔ لیکن په دے کښې لاسونه پورته کول ، په احادیثو کښې ثابت نه دی ، زمونږ ملك کښې داغلط رواج دے چه یو سیکنډ په اندازه لاس پورته کړی ، وائی دعا به اوکړو ، بل اواز اوکړی ، دعا به اوکړو ، داطریقه په دین کښې نشته دے ، بدعت دے۔

۲۳ - **مسئله** : دجنازے په مانځه کښې درے صفونه جوړول بهتر دی ، لکه مجمع الزوائد (۳۲/۳، او مشکاة (۱۴۷/۱) کښې حدیث دے۔

۲٤ - **مسئله** : دجنازے مونځ په درے وختونو کښې کول جائز نه دی ، نمر ختلو وخت کښې ، نمر پریوتلو وخت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



، او دغرمې په وخت. چه لازوال نه وی شوې. لړ انتظار پکار دې. (مشکوة: ١/٦٤).

۲۵ – **مسئله**: دغه شان مړي خښول هم په دغه درې وختونو کښې صحيح نه دی، عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی: درې وختونو کښې مونږ، نبی علیه السلام دمانځه اود مړی خښولو نه منع کړی یو، بیا ئې دغه مذکوره درې وختونه ذکر کړل. (مسلم ٣١١/٤، ابو داود ، مشکاة: ١/٩٠، احکام الجنائز: ١٢٩).

۲٦ – **مسئله**: حیله اسقاط، داولے ورځے خیرات، اودغه شان جنازګاه کښې پیسے تقسیمول، داتُول بدعات، او رواجونه دی، په دین کښې نشته دے، هسے پرے خلق ځانونه ستړی کوی.

۲۷ – **مسئله**: قرآن کریم مړی سره اوړل، یاپه پیسو باندے ایخودل، ظلم دے ځان ترے ساتل پکار دی.

۲۸ – **مسئله**: مړی پیسے په زوره جړا کول، او ویر کول ګناه ده، خلق ترے منع کول پکار دی، بلکه مړی ته عذاب ملاویږی په جړا د ژوندو باندے.(متفق علیه،مشکوة: ١/١٥٠)

۲۹ – **مسئله**: مړی ته فائده مند شے دعا ده، او جنازه ده ، اواستغفار دے، مړے په دے ډیر خوشحالیږی، او راحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې راځي . (بیهقي ، مشکاة : ۱/۲۰٦).

۳۰ – **مسئله** : قبر کښې نعمتونه او خوشحالئ شته دې ، دغه شان په قبر کښې عذاب او تکلیفونه مجرمانو لره شته دې. څوك چه ددې نه منکر دې هغه درسول الله ﷺ داحادیثو نه منکر دې ، اود خپل ناقص عقل پسې روان دې.

۳۱ – **مسئله** : دقبر دپاسه کرځیدل ګناه ده ، په اور باندې خپه کیده خو په قبر باندې ئې مه کده.

(مسلم : ۱/۳۱۲).

۳۲ – **مسئله** : په قبر باندې لیکل ګناه ده ، دغه شان ګنبد پرې جوړول او آبادي پرې کول جائز نه دي .

( ترمذی : ۱/۲۰۳ ، الحاکم : ۱/۳۷۰).

۳۳ – **مسئله** : دجنازې دبارولو نه پس اودس کول سنت دي ، دغه شان مړي له چه چا غسل ورکړو ، هغه دپاره هم غسل کول بهتر عمل دې.

(مشکاة : ۱/٥٥، ابو داود : ۲/۹٤، ابن ماجه).

۳٤ – **مسئله** : زنانه به هغه څوك خخوي چه دمړي نزدې خپلوان وي ، دارنګ هر هغه څوك چه بیګاه شپه ئې خپلې بي بي سره نزدیکت نه وي کړې .(بخاری : ۱/۱۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۵ – **مسئله** : مړے دیو علاقے نه بلے علاقے ته نقل کول جائز نه دی (کما فی حدیث البخاری : ردوا القتلی الی مضاجعهم)۔

۳٦ – **مسئله** : په تابوت کښ بغیر دضرورت نه مړے خخول مکروه عمل دے۔ دا عمل خلقو ایجاد کړے دے۔

۳۷ – **مسئله** : مړے قبرته دخپو دطرفنه داخلول سنت دی ۔ (فتاوی الدین الخالص، ابن ابی شیبة : ۳۲۸/۳) ابوداود : ٦۱۹/۲، البیهقی : ٥٤/٤)۔

❁ دارنګ نورے مهمے مسئلے هم شته لیکن دهغے تفصیل مونږ په الدین الخالص کښ کړے دے، هغے ته رجوع اوکړئ ، اوعلماؤ نه تپوس اوکړئ او دین سره شوق او جذبه پیدا کړئ۔ دارساله غور سره مطالعه کړئ ، او عمل پرے اوکړئ ، او مؤلف ته او ددے کتاب لیکونکی او خورونکو ته ډیره دعا اوکړئ ، چه الله تعالی مونږ ته هدایت او حسن خاتمه نصیب کړي ، اود قبر ، د زنکدن د تکلیف اود جهنم دعذاب اود أهوالو دآخرت نه مو بچ کړی ، آمین یارب العالمین بفضلك و کرمك وجودك یا ارحم الراحمین ، ولوالدینا ولجمیع المسلمین۔ آمین !

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ مکتبه محمدیه

## ضخیم چهاپ شوی کتابونه

۱ -- فتاوی الدین الخالص عربی (۸ جلد)۔

۲ – الحق الصریح شرح پښتو مشکوة المصابیح

(٤ جلد)۔

۳ – الفوائد : (عربی، ۲ جلد)۔

٤ – الفوائد (پښتو، ۱ جلد)۔

٥ – امین الفتاوی (پښتو، ۲ جلد)۔

# زیرِ طبع کتابونه

۱ – فتاوی الدین الخالص (پښتو، اردو)۔

۲ – الحق الصریح (اردو)۔

۳ – تفسیر القرآن العظیم (پښتو)۔

٤ – فقه الاحکام شرح بلوغ المرام (پښتو)۔

٥ – تحفة المناظر (اردو)۔

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**